# په دیواني شعري اصنافو کښې
# د فولکلوري شعري اصنافو د بحرونو رېښې

## Exploring Foundations of Modern Contemprery Pashto Literary Genres in the Folkloric Generes

Hafiz Rehmat Niazi*
Dr.Muhammad Usman Tobawal •
Murtaza Kakar ♣

**Abstract:**

It is usually believed that folklore is the cornerstone of the modern forms of expression whether in arts, poetry of storytelling. Even today, the folk ways of expression have a great potential to influence the mainstream modern literary genres and forms of expression. In this paper, the scholar has carried out in-depth analysis of the folk poetry influences on the poetry of written and modern poetry of this time. In this connection he has selected some specific poets who have technically adopted specific forms of folklore and have created poetry with spontaneity. The comparison between the two styles and traditions of creativity opens diverse options and possibilities of research in future.

له پورتني سرليك سره به ځنې داسې کسان چي د پښتو ژبې او ادب له تاريخ سره ډېره اشنايي نۀ لري دا فکر کوي چي کېداى شي د فولکلوري شعري اصنافو رېښې له ديواني شعري اصنافو اخستل شوې وي خو دا مسلمه خبره ده چي کله د انسان راتګ دې دنيا ته شوى دى هغه که بيا د هرې ژبې وي نو هغه وخت د هغې ژبې اولسي ادب هم ورسره سر ښکاره کړى دى دغسې چي کله پښتون او پښتو ژبه د مځکې پر سر پيدا شوى دى نو ځانته يې خپل اولسي ادب هم پيدا کړى دى او تراوسه پورې د پښتو د ديواني شعري ادب لومړى معلوم شاعر امير

* Hafiz Rehmat Niazi Lecturer Govt Inter College Barvoree Road, Quetta.
• Dr. Muhammad Usman Tobawal Assistant Professor Pakistan Study Centre University of Baluchistan, Quetta.
♣ Mr. Murtaza Kakar Lecturer Govt, Degree College Sariab Road Quetta.

کروړ دی چې له دویمې هجري پېړۍ سره تعلق لري او پښتو ژبه خو د ځینو تاریخ پوهانو له لیکنو پنځۀ زره یا اووۀ زره کاله زوړ تاریخ لري او چې له ژبې سره اولسي ادب هم میدان ته راځي نو ښکاره خبره ده چې د پښتو اولسي ادب به هم ډېر زوړ تاریخ لري، ځکه مونږ په ټینګه ویلی شو چې د ځنو دیواني شعري اصنافو د بحرونو یا په نورو ټکو کښې د بحرونو د ښاخونو رېښې له اولسي ادب څخه اخستل شوې دي او اولسي ادب هغه منل شوی ادب دی چې د هغې ژبې د بې علمه او له ښارونو څخه لیري په جلا غوندې ماحول کښې د ژوند کوونکو خلګو یو داسې پیداوار وي چې د هغه ځای له خلګو پرته یې د ښاري او تعلیم یافته خلګو په ذهنونو کښې یې هم خپل ځای پیدا کړی وي. او په پېړیو پېړیو یې سینه په سینه انسانان له یوه دوره بل دور ته رسوي، او د دیواني شعري اصنافو غوندې اولسي ادب هم د علاقو او سیمو په لحاظ او د خلګو د دلچسپي په لحاظ جلا جلا غوندې اصناف لري، د بېلګې په ډول په دې د ټولو ادب پوهانو اتفاق دی چې ټپه، نیمکۍ، بګتۍ او داسې نور اصناف د خېبر پښتونخوا د سیمي پیداوار دی او دغسې غاړې، انګۍ، بلندۍ او ځینې نور فولکلوري شعري اصناف د جنوبي پښتونخوا د بې سواده او د کلیو د خلګو د ذهنونو اختراع ده چې سینه په سینه تر مونږ پورې را رسېدلي دي، خو فولکلوري ادب خپلې رېښې دومره ټینګې ساتلې دي چې د دېواني ادب ډېرو شعري اصناف د اولسي ادب د شعري اصنافو بحرونه خپل کړي دي او دغه بحري اشتراك یې په یوه صنف کښې نۀ بلکې په ډېرو اصنافو کښې ښکاري، لکه غزل چې د ټپې د ثاني یا لومړۍ مصرعې په بحر کښې او د غاړو د مخصوص بحر او وزن په شکل کښې ځان ښکاره کړی دی او یا یې د اتڼ د نارې په بحر کښې هم څۀ ناڅۀ راغلی دی، دغسې د انګیو یا چغیانو بحر د څلوریځې، غزل، یا نظم په شکل کښې راغلی دی. خو دغه تجربه هغو شاعرانو کړې ده چې د شعر له فني اړخ سره ډېر نزدې پاته شوې وي او د بحرونو په استعمال زورور ګرفت لري. د جنوبي پښتونخوا ډېرو او د خېبر پښتونخوا او افغانستان ځینو شاعرانو د اولسي شعري اصنافو په

بحرونو کښې ديواني شعري صنفونه د بحرونو په اړه ليکلي دي، خو هغه شاعران چې د شاعرۍ ابتدا يې هم له بانډاري شاعرۍ کړې وي هغه ډېر په کامياب ډول په دغه تجربه کښې ښکاره شوي دي دا ځکه چې په بانډاري شاعري کښې د بحرونو تجربې ډېرې زياتې کېږي په نسبت د هغې شاعرۍ کومه چې په کتابي شکل کښې ادبي ميدان ته راځي.

که دلته لږ د بحر خبره واضح شي نو ډېر به ښهٔ وي د پښتو شاعرۍ د بحرونو په اړه د ښاغلي درويش دراني کتاب "پښتو عروض" د سنګِ ميل حېثيت لري چې ښهٔ په تفصيل او په اسانه توګه وربانديې بحث شوی دی چې بحر له بېلا بېلو رکنونو څخه جوړ بولي او بيا د هر بحر بېلا بېل ښاخونه ګڼي او له مثالو سره سره يې د هر بحر وضاحت کړی دی، او د درونډ او سپك سېلاب د ځای په فرق يې د بحرونو فرق هم واضح کړی دی، خو دا خبره په ذهن کښې ساتل په کار دی چې بحر خالي د سېلابونو د برابرۍ په وجه نهٔ راځي بلکې د بحرونو فرق د درونډ او سپك سېلاب په وجه راځي او په دغه درونډ او سپك سېلاب د پوه کېدو دپاره د درويش دراني کتاب د کتلو وړ دی خو دا چې د بحرونو فرق د درونډ او سپك سېلاب په وجه وي يو مخصوص پيراګراف ورکول د درويش دراني د کتاب ضروري بولم چې لږ يې وضاحت وشي:

"اوس پوه شوو چې د دغو بيتونو په مصرعو کښې د لازمي درانهٔ سېلاب په ځايونو کښې فرق دی، د لازمي درانهٔ سېلاب د ځايونو دغه فرق د دوی تر منځ په لی يا آهنګ کښې فرق راوستلی دی او د لی د دغه بېلوالي معنا د بحر بېلوالی دی، په دا نو اوس ويلی شو چې په دغو څلورو بيتونو کښې هر يو په بېل بېل بحر کښې ويل شوی دی، اوس يو ځل بيا دغه څلور بيتونه د دې دپاره راوړو چې د بحرونو د بېلوالي پر اسبابو پر اسبابو يې يو ځل بيا غور وکړو:

1: شکر کړه زړګيه! که اقرار يې را ته و نهٔ کړو
کړي دي بهانې خو چې انکار يې را ته و نهٔ کړو

2: لــه جنگــه پــس لــه مــا ســره د دې خبــرې غــم وي
دا نــۀ وي چــې زخمونــه مــې تــر بــل ملگــري کــم وي

3: د وصــال شــپه مــې بدلــه پــه بېلتــون شــوه الغيــاث
د قيامــت خــواري را پېښــه پــه ژونــدون شــوه الغيــاث

4: د گــل څــۀ حــال دی او بلبــل تــه پــه لاس څــۀ ورغلــل
عشــق کښــې دا نشــته چې يــو بــل تــه پــه لاس څۀ ورغلــل

اوس چـې دا بيتونـه مـونږ يـو ځـل بيـا ولوسـتل نـو بيـا را تـه څرگنـده شـوه چـې هـر يـو پـه بېـل بېـل بحـر کښـې دی او د بحرونـو بېلـوالی يـې پـه دې کښـې دی چـې پـه هـر يـوۀ کښـې يـو بېـل ډول لـی يـا آهنـگ روان دی، مـونږ پـوه يـو چـې د لـی يـا آهنـگ اړه لـه لازمـي درنـو سـېلابونو سـره ده، پـه دغـو پورتنيـو بيتونـو کښـې د لـی د بېلـوالي سـبب دا دی چـې پـه هـر بيـت کښـې د لازمـي درنـو سـېلابونو د ځـايونو ترتيـب بېـل دی او د لازمـي درنـو سـېلابونو د ځـايو د ترتيـب لـه بدلېـدو سـره لـی يـا آهنـگ هـم بـدلېږي، پـه دغـو څلـورو بيتونـو کښـې د هـر بيـت پـه هـره مصـرعه کښـې چـې کـوم کـوم سـېلابونه لازمـي درانـۀ سېلابونه دي هغه په لاندې ډول دي:

1: په لومړي بيت کښې: لومړی، پنځم، نهم او ديارلسم
2: په دويم بيت کښې: دويم، شپږم، لسم او څوارلسم
3: په دريم بيت کښې: دريم، اووم، يوولسم او پنځلسم
4: په څلورم بيت کښې: څلورم، اتم او دوولسم"(1)

د پـورتني بحـث پـه رڼـا کښـې اوس راځـو د فولکلـوري اصـنافو بحرونـو تـه چـې پـه دېـواني شـعري اصـنافو کښـې کـارول شـوي دي خـو دا هغـه وخـت راځـي چـې هـو بهـو درونـد سـېلاب د درونـد سـېلاب پـر ځـای او سـپک سـېلاب د سـپک سېلاب پر ځای راشي، تر ټول لومړی د اتڼ د نارې په بحر بحث کوو:

**د اتــڼ د نــارې بحــر**: د اتـڼ نـارې پـه عمـومي ډول دوې مصـرعې وي خـو کلـه کلـه تـر دې هـم زيـاتې مصـرعې لـري، او هـره مصـرعه يـې اتلـس اتلـس يـا اتلـس او نـولس سـېلابونه لـري. د رديـف او قـافيې پابنـدي هـم پـه کښـې

وي، او د بحرونــو د زیــات تفصــیل دپــاره د ښــاغلي دروېــش درانــي کتــاب "پښــتو عــروض" زمــونږ ډېــره رهنمــائي کــولای شــي. دلتــه مــونږ فقــط د سېلابونو تـر حـده بحث کـوو او د مثـال دپـاره لـومړی د اتـڼ د نـارې پـه بحـر کښـې د سـعید ګـوهر یـوه غـزل ګـورو کومـه چې د اتـڼ د نـارې پـه بحـر کښـې ویل شوې ده:

"دا ځــه زنــدګي ده چــې تېریــږي د خوبونــو پــه دنیــا کښــې
دومــره تــاریکي ده چــې ځــان نــه وینــم د اوښــکو پــه رڼــا کښــې

خپــل مــړی اخســتی را روان یــم رنــګ د ځــان پــه وینــو بانــدی
څــومره تنهــائي ده د احســاس د تــوری شــپې پــه کــربلا کښــې

څــه بــه اوبومــه تــږی زړۀ پــه ســراب بانــدی، څــه بــه ځمــه
یــو خــو تشــنګي ده، بلــه ټکنــده غرمــه او پــه بېــدیا کښــې"(2)

اوس د اتــڼ نــاره وړانــدې کــوم د کــومې پــه بحــر کښــې چــې ســعید ګــوهر پــورتنی غــزل لیکلــې ده، خــو دا خبــره پــه ذهــن کښــې ســاتل ضــروري ده چــې د اتــڼ هغــه نــاره چــې پــه یــوه نیمــه مصــرعه کښــې راغلــې وي د د غــې نــارې لــومړی مصــرعه اکثــره اتڼچیــان تکــراروي او د دوو مصــرعو پــه شــکل کښــې یــې وایــي یعنــي د اتــڼ د نــارې مشــهور بحــر هــم هغــه دی چــې اتلــس سېلابیز بحرونــه پــه کښــې کــارول شــوي دوې مصــرعې وي یــا پــه نــورو ټکــو کښې درېینم رکني یا درېیم نیم فتېه بحر وي، د بېلګې په ډول:

اتڼ مه د بوري نجونې کوینه
پر ملا کړې وړې سي لونګین یې د نامه غوټې وهینه

دغه ناره په اتڼ کښې اکثرا وخت داسې تکراریږي:

اتڼ مه د بوري دی وی اتڼ مه د بوري نجونې کوینه
پر ملا کړې وړې سي وی امېل یې د نامه غوټې وهینه

د اتــڼ پــه هــره نــاره کښــې ضــروري نــه ده چــې مصــرعې یــې اتلــس سېلابونه ولـري خـو وروسـتی مصـرعه یـې عمومـاً پـه اتلـس سـېلابیز بحـر کښې راځي کـه کلـه د یـوۀ سـېلاب فـرق وي نـو هغـه پـه اتـڼ کښـې د تـرنم پـه

وخت کښې اتڼچيان سمه ويلی شي يا کـه سمه نۀ وي خو پـه ډېره ګرانه محسوسيږي، دلتـه د سيد خير محمد عـارف دوه کلامونـه راوړم چې د دوو مصرعو پـه شکل کښې راغلي دي او د اتڼ د نـارې پـه بحر کښې ويل شوي دي لکه:

"دومره بې حسې ده د وطن خلک چې مړۀ ښکاري نو وژاړم
پورتـه کړم هينداره ستا تصوير چې پـه کې نۀ ښکاري نو وژاړم

پاتـه سي يادونـه مرغـۀ غونـدي پـرواز وکـړم راولـوېږم
وګـورم و زړۀ تـه د ټـول عمـر بـد چې ښـۀ ښکاري نو وژاړم"(3)

"يـو ساعت قرار سم بيا مې زړۀ پر زړۀ شمار نۀ دی زۀ څـۀ وکـړم
فکـر د ښايست مې يـاره ستا د غـاړې هـار نۀ دی زۀ څـۀ وکـړم

خپل قسمت مې ياره! ګلان نۀ سپړي ازغي ازغي مې برخه شو
ولاړئ خزان تېر سو لا پر مـوږ بانـدي بهـار نۀ دی زۀ څـۀ وکـړم"(4)

اوس هغـه د اتڼ نـارې د دوو، دريـو او څلورو مصرعو پـه شکل کښې وګورئ چې د پورتني غـزل پـه بحر کښې ويل شوې دي خو د دغـو بحرونو پـه اړه ښاغلي خير محمد عـارف ښـۀ خوندور بحث لـه نمونو سره راوړی دی چې پـه ويلو سره يې د اتڼ د نـارو مصرعې او بحرونـه پـه ښـۀ توګـه واضح کېدای شي. زۀ چې دلتـه د کومې نـارې خبره کوم لـه دې زما مقصد هغـه د اتڼ ناره ده چې عموماً دوې مصرعې لري او هـره مصرعه يې اتلس او اتلس يا اتلس او نولس يا نولس او اتلس سېلابيزې مصرعې لري خو پـه دويمـه مصرعه کښې د سېلاب د زياتوب لـه کبلـه شاعر لږ خبره پـه زور سره کـوي يا لږ داسې پـه غـوښي اواز کښې د يـوۀ سېلاب غونـدي اوږد ږغ وباسي او بيـا د مصرعې تـوري پـه پسې کـړي، خـو دا چې کلـه نـولس سېلابيزې مصرعې هـم د اتڼ پـه نـارو کښې راځي دا هغـه وخت وي چې د اتڼ نـاره پـه يـوه نيمـه مصرعه کښې راغلې وي او لـومړۍ مصرعه يې تکراريږي خو د دغـه تکرار کېدو پـه وخت کلـه اتڼچيان يـو سېلابيز تـوری لـه ځانـه پـه ګډ کړي او کلـه دوه سېلابيز تـوری پـه ګډ کړي د مثال پـه ډول دا مصرعه چې:

"لـه کښـې پـر بـازار بيـا ، مـا ول لـه کښـې پـر بـازار بيـا راغلـه يکـړه"، کلـه کلـه بيـا داسـې تکـرار شي چي: "لـه کښـې پـر بـازار بيـا وی، لـه کښـې پـر بـازار بيـا راغلـه يکـړه". دغـه مصـرعه پـه اتلـس او نـولس سـپلابيز دواړو بحرونـو کښـې راتلـی شـي. پـورتنۍ د سـيد خيـر محمـد عـارف د غـزل مصـرعې هـم دغسـې پـه اتلـس او نـولس سـپلابيز بحرونـو کښـې راغلـې دي. دلتـه د اتلـس او نولس سپلابيز بحر د اتې دغه ناره د مثال په توګه وړاندې کوم:

"وشـــپونه يکـــړه، د نـــابودې خونـــد د واخســـتۍ لـــه نـــړه*
نـــړه خـــدای ده مـــات کـــه، چـــي ســـې داســـې لکـــه زمـــا د قلـــم دړه" (5)

ټکنـــده غرمـــه ده لاهـــوری، شـــبخه پـــه خونـــه کښـــې ويـــده ده
مـــا ســـر کـــړئ ورد ننـــه، دې ول مـــه راځـــه ناترســـه زمـــا روزه ده
ښـــځه ده چـــي روزه ده مـــوږ نېکـــي کـــوو لـــه بـــدو مـــه توبـــه ده" (6)

تلـــم د ښـــار پـــر لـــوري چټـــه ناســـته د يـــاغي انځـــر پـــه ســـيوري
ســـوال يـــې راتـــه وکـــړئ لونـــګ راوړه د پټکـــي پـــه پلـــو پـــوري
لونـــګ بـــه و تـــا جـــار کـــړم تـــه بـــه ځـــو د مســـافرو ليـــارې ګـــورې
زۀ بـــې تغـــو ګـــورم چـــي شـــينکۍ کـــوترې ځـــي د ښـــار پـــر لـــوري" (7)

پـه دغـو نـارو کښـې ځينـې مصـرعې داسـې وي چـي شـاعر د سـپلاب د زيـاتوالي لـه کبلـه پـه داسـي انـداز خبره پيـل کـوي لکـه څـوك چـي يـې پـه زوره ورباندي وايـي خـو دغـه زور او د ځـان سـره را پېچـل ډېـره بـارك بينـي غـواړي کني هسـې پـه نـاره کښـې هـر عـام سـړی او يـا ځينـې شـاعران دغـه د سـپلاب زياتوالی يا کموالی نۀ شي محسوسولای.

**د ټپـــې بحـــر**: ټپـه ټولـه پـه دوو مصـرعو کښـې راځـي چـي لـومړۍ مصـرعه يـې نهـه سـپلابونه لـري او دويمـه مصـرعه يـې ديـارلس سـپلابونه لـري. لـه تفصـيله ډډه کـوم لـه موضـوع سـره سـم د ټپـې د دواړو مصـرعو پـه بحـر کښـې شـاعرانو غزلـې ليکلـې دي خـو د ټپـې د لـومړۍ مصـرعې پـه بحـر کښـې د ځينـو شـاعرانو پـه نظمونـو کښـې کلـه کلـه يـوه مصـرعه ښـکاره شـي خو لـه دې سره سره د پښـتو د نـوي ايجـاد شـوي صـنف ټپـه ايـز پـه اخيـر کښـې

*نړ، مرلۍ. لکه کړکه جوړه شوې د ساز آله.

چې بشپړه ټپه راځي د ټپې له لومړۍ مصرعې سره درې، څلور یا پنځهٔ مصرعې په بحر کښې برابرې راځي، د مثال په ډول:

"بـــاران وریــــږي موســـم یـــخ دی
چرتـــه بـــه وي زړهٔ کـــي مـــي ښـــخ دی
زمـــا پـــه دې بانـــدې ډېـــر خـــوښ دی
د یـــار مـــي چـــوخي چـــوخي مـــخ دی
چـــي لـــړه لویـــه شـــم غمـــي بـــه پـــه کښـــې ږدمـــه"(8)

پـه پـورتني ټپـه ایـز کښـې وروستۍ دوې مصـرعې بشـپړه ټپـه ده، خـو د ټپـه ایـز پـه اړه خـوږ ژبـي شـاعر سـهېل خټـک صـاحب، د دهٔ پـه قـول پـه وړومبـي ځـل دا تجربـه وکـړه چـي پـه ازاد نظـم کښـې یـې ټپـه ایـز ولیکلـو، پـه دې کښـې شـک نشـته چـي سـهېل خټـک آزاد نظمونـه د ټپـه ایـز پـه نامـه لیکلـي دي خـو دا بېلـه خبـره ده چـي د نظـم پـه پـای کښـې چـي کـومې هغـه مصـرعې راځـي چـي د ټپـې لـه لـومړۍ مصـرعې سـره تـړون لـري نـو پـه هغـو کښـې ښـاغلي سـهېل خټـک پـه خپلـو نظمونـو کښـې د ټپـې لـه لـومړۍ مصـرعې سـره هـم قافیـه دوې یـا درې مصـرعې راوړي دي خـو پـه وزن او بحـر کښـې یـې د یـوهٔ سـېلاب فـرق ورکـړی دی، دا کـه یـوې خـوا تـه د ټپـه ایـز لـه مشـهور صـنف سـره سـم نـهٔ ښـکاري خـو زمـا خیـال شـاعر قصـداً دا کمـال کـړی دی چـي د ټپـې لـه لـومړۍ مصـرعې سـره یـې دوې یـا درې مصـرعې د سـېلاب پـه فـرق کښـې راوړي دي دا د قصـداً تـوری مـي ځکـه ورسـره ووایـه چـي څـومره نظمونـه یـې هـم لیکلـي دي پـه دې ټولـو کښـې یـې د ټپـې تـر لـومړۍ مصـرعې لـه مخـه یـې هـم اوازه دوې مصـرعې راوړې دي او یـو ځـای هـم د ټپـې لـه لـومړۍ مصـرعې سـره برابـره مصـرعه نـهٔ ده راغلـې دا ځکـه چـي د ازاد نظـم اشـارتاً او ضـمناً ذکـر کـوي کنـي یـو ځـای خـو بـه یـې داسـې کـول چـي یـوه مصـرعه بـه د ټپـې لـه لـومړۍ مصـرعې سـره پـه بحـر کښـې برابـره راغلـې وای مګـر چیـري هـم داسـې نـهٔ دي شـوي او لـه دې دا هـم معلـومېږي چـي شـاعر د ازاد نظـم پـه لیکلـو ښـهٔ زورور قـدرت لـري. د مثـال پـه توګـه د څـو نظمونـو وروسـتۍ مصـرعې او ورسره تړل شوې ټپې د نمونې په ډول وګورئ:

"خوار او زار ذرې ذرې شې
په سور اور لمبې لمبې شې
نصيبه! خاورې شې ايرې شې
تندیه مات شې په تا څۀ ليکلي دينه"(9)

"پروا نشته که سوځېږم
اوس په راز د دې پوهېږم
د تور لحد نه نۀ يرېږم
ما د هجران بندې خانې ليدلې دينه"(10)

"څۀ شېبې را يادومه
څۀ غندمه څۀ ستايمه
خپل زړګی پخلا کومه
اختر پرون تېر شو عالمه!
د بغدادي کوترو نن راغلل سېلونه"(11)

"ملګري چې څوك د زړۀ کړي
وير ژړا د ببلتانۀ کړي
بخت مي ياري راسره نۀ کړي
که مي نګين د سليمان په ګوته شينه"(12)

له دې پرته د ډېرو شاعرانو په ازادو نظمونو کښې داسې ډېرې مصرعې شته چې هغه د ټيپ له لومړۍ مصرعې سره په بحر کښې برابرې وي که څۀ هم هغه ټول نظم په هغه بحر کښې نۀ وي خو ځينو مصرعو يې کټ مټ د ټيپ د لومړۍ مصرعې بحر خپل کړی وي. دا چې ځينې سېلابونه شاعر په کم يا زيات سېلابيز بحر کښې راوړي دا څرګندوي چې که داسې نۀ و شي نو بيا هغه ازاد نۀ بلکې معرٰی نظم ګڼل کيږي، د مثال په ډول دغه نظم وګورئ:

**اوشنيک سترگې**

تر اوشنيك سترګو دي جار شم
د مينې موج ورپکښې ځومري بېکران دی
که شاعر زړهٔ مي له کلو پکښې لاهو دی
خو د خليج په څېر يې پای لاليري ښکاري"(13)

په پورتني نظم کښې که څهٔ هم لومړی مصرعه د ټپې د ثاني مصرعې په بحر کښې نهٔ ده خو د ټپې د لومړی مصرعې په بحر کښې راځي فقط د يوهٔ سېلاب کمی لري او په شعرونو کښې که هر صنف وي دا د يوهٔ سېلاب د کموالي يا زياتوب ګنجائش په کښې وي.

داسې د پورتنی خبرې په رڼا کښې د ښاغلي محمود اياز له نظمونو څو مصرعې د نمونې په توګه وګورئ:

"په خپلو خپلو اسپو باندې
زموږ د کلي د ېوالونو
د اسمان تکې شنې لمنې
د کربلا د مځکې غوندې
د مختلفو موسمونو
نن ما په دې نګار خانه کښې
په خلوص لاس د وفا ورکړم
چې زموږ د کلي ځراغونو"(14)

ټپې د خپل خواږه بحر په وجه او بيا خاص کر په دې چې په ډېرو لنډو دوو يا يوه نيمه مصرعه کښې ډېره اوږده خبره چې ډېر تفصيل او تفسير په کښې موجود وي د دېواني يا په بله ژبه د معلومو شاعرانو په شعرونو کښې په خواږه صنف غزل باندې هم خپل اثرات پرې ايښي دي او ډېرو شاعرانو د ټپې د دويمې مصرعې په بحر کښې غزلې ليکلي دي، خو دا بېله خبره ده چې ځينې غزلې چې د ټپې د دويمې مصرعې بحر ته راولې نو به لږ زور ورسره کوې بيا به د ټپې بحر ته راځي له دې زما مقصد دا نهٔ دی چې ګوا کې هغه غزلې د ټپې د دويمې مصرعې په بحر کښې نهٔ دي بلکې

د ځينو شاعرانو د غزلې بحر هو بهو هغه د ټپې بحر وي او په ويلو کښې يې هيڅ دقت نۀ محسوسيږي. د مثال دپاره يې نمونه وګورئ:

"د ګل ګريوان دی د ظالم اغزي لاسونه
خاونده! مات نۀ دي د دې سپرلي لاسونه
ما ستا دپاره ماڼۍ جوړه کړه له ستورو
خپلې جونګړې لره ځم زخمي لاسونه
له ډيره وخته يو له بله ګيله من دي
زما درويش تشه لمن خالي لاسونه"(15)

اروابښاد راز محمد راز ډيرې غزلې د ټپې د دويمې مصرعې په بحر کښې ليکلې دي له هغو څخه يو دوې د نمونې په ډول وړاندې کوم:

"چا يې په زړو ايښې، کهاندې دي باداره!
چې زمانې دا ستا ژړاندې دي باداره!
په کانو لبو دي زما که خندا شنه کړه
خو لاڅۀ اوښکې مې درباندې دي باداره!
تلخې څپې به يې خود زما تر سر شي تېرې
اوښکې زما درون بهاندې دي باداره!" (16)

**د غاړې بحر**: غاړې عموماً په دوو مصرعو کښې ليکل کيږي او دواړې مصرعې يې اتۀ اتۀ يا اتۀ او اووۀ يا اووۀ اووۀ سېلابونه لري، د دغه بحر په اړه ښاغلی درويش دراني ليکي:

"دغه اوه رکني يا اتۀ سيلابيز ښاخ که څۀ هم ډير لنډ دی خو د نورو بحرونو د دغسې لنډو ښاخونو سره که يې پرتله کوو نو دا په پښتو شاعرۍ کښې ډير زيات کارول شوی دی، هم غزل په کښې ليکلې شوې ده هم نظم او هم په اولسي شاعرۍ کښې په بېلا بېلو طريقو کارول شوی دی، غاړې هم په دغه ښاخ کښې دي"(17)

د غاړې دغه خوږ بحر د پښتو شاعري د بېلا بېلو صنفونو په شکل کښې خپل ځان په بېلا بېلو ډولونو ښکاره کړی دی. کله د غزل د بشپړې مصرعې په بڼه کښې راځي کله بيا د غزل د مصرعې په بڼه کښې په بېل

ډول راځي، يعني کله کله يوه غاړه د غزل په يوه مصرعه کښې راغلې وي او کله بيا د غزل په دوو مصرعو کښې د غاړې يوه مصرعه راغلې وي، کله د غزل په يوه مصرعه کښې د غاړې دوې يا درې مصرعې راغلې وي دلته ستاسې مخې ته هغه غزلې وړاندې کوم په کومو کښې چې غاړې په بېلابېلو شکلونو کښې راغلې دي يعني نيمه، يوه، دوې، درې يا څلور غاړې د غزل په يوه مصرعه کښې راغلې وي، لکه:

"لاحاصل وو
ژوند مشکل وو

ټول نيمګړي
څوک کامل وو

ستا فراق هم
لوئ قاتل وو

لمر و تا ته
مماثل وو

فلسطين وم
اسرائيل وو

ژوندے ولاړے
ډېر بزدل وو

غزل جسم
ګوهر دل وو

ګوهر ځان ته
مقابل وو"(18)

د دغه غزل يوه مصرعه په څلور سېلابيز بحر کښې راغلې ده او دا بحر په اصل کښې د غاړې نۀ دی او د غاړې بحر ته هغه وخت لويږي چې

دوې مصرعې چې سره يو ځای شي نو د غاړې يو اتۀ سېلابيز بحر ځينې جوړ شي او يا له دوو مصرعو د غاړې يوه مصرعه جوړه شي. لکه:

لاحاصل وو، ژوند مشکل وو
تول نيمګړي، څوك کامل وو
ستا فراق هم، لوئ قاتل وو
لمر و تا ته، مماثل وو
فلسطين وم، اسرائيل وو
ژوندے ولاړے، ډېر بزدل وو
غزل جسم، ګوهر دل وو
ګوهر ځان ته، مقابل وو

دغه بحر په غزل کښې د پښتو کلاسيك شاعرانو هم کارولی دی خو ځينو کلاسيك شاعرانو په اووۀ سېلابيز بحر کښې غزل ليکلې دي او ځينو په اتۀ سېلابيز بحر کښې غزلې ليکلي دي، خوشحال خان خټك په دواړو بحرونو کښې طبع ازمائي کړې ده او د دواړو قسمونو يوه يوه غزل د نمونې دپاره وړاندې کوم:

"ګل کرم ازغي ترې زېږي
نوش دارو مې زهر کيږي
چې مې څراغ په اوبو بل ۀ
اوس په تېلو نۀ بليږي
که يې مخ وي که يې شا وي
په خپل بخت هر څوك پوهيږي
هره ورځ که سل غمونه
له جهانه را رسيږي
زما زړۀ په دا ډاډمن دی
غم، ښادي واړه تېريږي

هـــم خـــزان هـــم بـــه پســـرلی وي
چـــي اســـمان پـــه ســـر څرخيـــږي
زمـــا اوښـــکې ګرمـــې نـــه دي
کـــه ســـېلاب غونـــدې بهيـــږي
پـــه حضـــور ديـــدن يـــې وينـــي
طـــاهر خـــان ځينـــې بيليـــږي
اوس خـــو اور پـــه خوشـــحال بـــل شـــو
بيـــا بـــه څـــه رنګـــه ســـړيږي"(19)

دغسې د خوشحال خان ختـک هغه غزل چې د غاړې په اووه سېلابيز بحر کښې يې ليکلې ده وګورئ:

"راســـتی لار ده بادشـــاهي
پـــه کښـــې نشـــته ګمراهـــي
د رښـــتينو پـــروا نشـــته
د جهـــان پـــه بـــد خـــواهي
د رښـــتينو ســـره مـــل وي
تـــل نصـــرت د الٰهـــي
د رښـــتينو ځـــای جنـــت دی
د قـــرآن پـــه ګـــواهي
بيـــا بـــه نـــه مـــومې خوشـــحاله!
پـــه راســـتی کښـــې تبـــاهي"(20)

په هم دغسې اووه سېلابيز بحر کښې د نعيم ازاد غزل چې د غاړې په بحر کښې نه ده، د مثال په توګه وړاندې کوم:

"زه د روغـــو نـــه يمـــه :: زه د لېونـــو يمـــه
زه د زلفـــو نـــه يمـــه :: زه د زولنـــو يمـــه
زه د پـــت کمبلـــه يـــم :: زه د مېلمنـــو يمـــه
نـــه د نفـــاق وس لـــرم :: نـــه د تربګنـــو يمـــه
زه د احمـــد شـــاه زانګـــو :: زه د مېړنـــو يمـــه

زمـا لمـن بـه پـت پـالي :: پُـر د منګنـو يمـه
سـتورى د آسـيا يمـه :: سـر د وطنـو يمـه
جـوړ بـه پښـتانۀ کړمـه :: زۀ د پښـتنو يمـه"(21)

لکـه څنګـه چـې د غـزل يـوه مصـرعه د غـاړې د بحـر پـه يـوه مصـرعه کښـې راځـي دغسـې ډېـرو شـاعرانو د غـاړې پـه بحـر کښـې پـه بـېلا بېلـو ډولونـو کښـې نظمونـه هـم ليکلـي دي او لـه هغـو نظمونـو څخـه د نمـونې دپاره څو وړاندې کوم:

"لويـه خدايـه! لويـه خدايـه!
سـتا پـه مينـه پـه هـر ځايـه

غـر ولاړ دى درنـاوي کښـې
تولـه ژوي پـه ځـاري کښـې
دلتـه دي د غـرو لمنـې
زمـوږ کيـږدۍ دي پـه کښـې پلنـې
دا وګـړي ډېـر کـړې خدايـه!
لويـه خدايـه لويـه خدايـه"(22)

دغسـې د اجمـل خټـک يـو نظـم هـم د نمـونې پـه توګـه وړانـدې کـوم خـو دا خبـره پـه هـم ورسـره ضـروري بـولم چـې د نـورو شـاعرانو غونـدې يـو يـا دوه نظمونـه د نمـونې دپـاره نـۀ بلکـې د اجمـل خټـک اکثـر نظمونـه د غـاړې پـه دغـه مخصـوص او مشـهور بحـر کښـې ويـل شـوي دي، او پـه يـوۀ نظـم کښـې هـم چرته د سېلاب زياتوب يا کمبوت نۀ ښکاري:

" **بين مار ته**

راشـه پـوک وهـه دا بـين دي
د دې غـر د لـوړه سـره
اې شـپونکيه! د تـور غـره
اې بـين مـاره د خيبـره

ستا د سوز و ساز پردو کښې
سرې لمبې دي را خورې کړه
ستا سوري سوري کوګل کښې
څو نغمې دي را خورې کړه
دا سره سره فضا دي
په نغمو لمبه لمبه کړه
دا اوده اوده دنيا دي
په دې بين نغمه نغمه کړه
په دې چپه چپيايۍ کښې
غلبلې اودې پرتې دي
د دې تړو په ځولۍ کښې
زلزلې اودې پرتې دي
په دې بين دي ګوتې کېږده
دغه غرونه په ګډا کړه
د خېبر د سر د پاسه
تندرونه په ګډا کړه
راشه پورته يو ټپه کړه
له دې سوي سوي غره
اې بين ماره د خېبره!
اې شپونکيه د تور غره
راشه پوك وهه دا بين دي"(23)

دغه بحر ډېر خوږ او د غزل او نظم دواړو طبعې ته ډېر ورته دی ځکه ډېرو شاعرانو په کښې غزلې او نظمونه دواړه ليکلې دي له هغو شاعرانو څخه يو منتظر بېټنی دی چې په دغه بحر کښې له نظم سره سره غزلې هم ليکلې دي د دهٔ يو نظم وړاندې کوم او وروسته د سعيد ګوهر يو غزل چې په هم دغه د غاړې په بحر کښې ليکل شوې ده وګورئ:

**اختره!**

"هــر کلــی دي پــه مــا فــرض دی
چـــي مېلمـــه يـــې اې اختـــره!
خـو پــه خـدای کـه پـه راتلـو دي
زۀ ذره قـــدر خوشـــحال يـــم

يـــم پښـــتون مېلمـــه کـــوم بـــه
دي ارومـــــرو خـــــو ګـــــوره
کـــه خـــاطر دي ښـــۀ و نـــۀ کـــړم
ګرمـــوه مـــي مـــه بـــد حـــال يـــم
تـــۀ ګيلـــه کـــوې اختـــره!
اســـتقبال مـــي ســـتا و نـــۀ کـــړ
اې! کـاش مخـې لـه درتلـی شـوای
دې تښـــی، تښـــی، جـــامو کښـــې
راشـــه زړۀ تـــه مـــي را کـــوز شـــه
رانـــه غلـــی تپـــوس وکـــړه
چـــي ورتـ ورتـ اوښـــکې دي ولـــې
نـــن غړيـــږي پـــه لېمـــو کښـــې"(24)

"پـــه مـــوږ بانـــدې کـــال وچـــوب ۆ
تـــازګي يـــې نـــۀ درلـــوده
حـــبس زمـــا د ښـــار آشـــوب ۆ
پـــه يـــو چـــا بانـــدې غلـــط شـــوم
مـــا ځيـــام تـــۀ يـــې هغـــه خـــوب ۆ
مـــخ مـــي تـــول لـــوړ او ژوړ شـــو
پـــرې را تـــوئ اوښـــکې ځـــړوب ۆ
پـــه ژونـــد پـــوه نـــۀ شـــوم ګـــوهره!
شـــاعري کـــه لېونتـــوب ۆ"(25)

دا چي غاړې هم د اتڼ د ناري غونډې څلور مصرعې هم لري نو په دغه اړه پروفيسر سيال کاکړ ليکي:

"څرګنده دي وي چي دغه مزاحيه غاړې ځيني وخت اوږدې او ځيني وخت بيا لنډې وي، د دې مزاحيه غاړو هره مصرعه څلور سېلابيزه وي البته د مزاحيه غاړو د پای مصرعه زياتره اتۀ سېلابه راځي، خو څرګنده دي وي چي په ځينو مزاحيه غاړو کښې دغه پورتني اصول نۀ دي مراعات شوي، البته په داسې غاړو کښې بيا اتۀ او اووۀ سېلابه يا اووۀ او اتۀ سېلابه راغلي دي، خو د همداسې غاړو په مابين کي بيا ځيني مصرعې ببخې اوږدې او ځيني بيا ببخې لنډې وي، دلته دا خبره د يادولو وړ ده چي پښتو شاعرانو زمونږ په دې معاصره دوره کښې په پښتو کښې ازاده شاعري پېل کړې ده او دغه راز په اردو، فارسي او د دنيا په نورو ژبو کښې ازاده شاعري کيږي خو که چيري مونږ د پښتو پخوانۍ غاړې د نړۍ د نورو ژبو د ازادي شاعري سره پرتله کړو نو و دې پايلې ته به ورسېږو چي په پښتو کښې ازاده شاعري د دنيا د هرې ژبې په مقابل کښې څو پېړۍ وړاندې [په ازادو غاړو کښې] پيل شوې ده"(26)

د پښتو د دغه پورتني ډول مثال پروفيسر سيال کاکړ داسې ورکړی دی:

"پړتوګ د سان
سدرۍ د سوپ
پټکی ململ
بانړې بانړې دی سروبن"(27)

"تر کاڼي سخت
تر ګل نازک
تر ګوړه خوږ
تر مسري سپين
په يبلي پښې
په تروږمۍ
ما له نازک کله راتلۍ"(28)

پورتنۍ دوې غاړې هوبهو د پښتو د ازاد نظم بڼه لري دا که يوې خوا ته د ازادې غاړې (چې کم سېلابيز بحر لري) ډول دی نو بلې خوا ته دا هم څرګندوي چې د پښتو ازاد نظم له هم دغه ډول څخه متاثر ښکاري، خو دا هغه وخت که د پروفيسر سيال کاکړ دا خبره ومنل شي چې دا مزاحيه غاړې دي چې درې يا څلور مصرعې لري خو زما خيال دا په خپله ازاد نظم دی يا دوې يا درې ماتې غاړې سره ټوکړې ټوکړې شوې دي او د دې مثالونه زمونږ په پښتو شاعري کښې ډېر موجود دي چې له نظم څخه غزل يا له غزل څخه شاعر نظم جوړ کړی وي يعنې دا که مونږ داسې ووايو هم کېدای شي چې:

تر کاڼي سخت تر ګل نازك
تر ګوړه خوږ تر مسري سپين
په يېلې ښې په تروږمۍ
ما له نازك کله راتلئ

د پروفيسر سيال کاکړ غونډې خو ځينو فولکلورستاټو په دوولس سېلابيز بحر کښې هم غاړې راوړې دي خو دا د ګوتو په شمېر يو څو غاړې دي او ډېر فولکلورستاټان له دې دوولس يا يوولس سېلابيز بحر سره اتفاق نۀ کوي او وايي چې دا له وخته سره ځان له لاسه ورکوي او دا له يوې ټولنې تر بلې ټولنې پورې مزل نۀ شي کولای.

خو داسې هم شوي دي چې ځينو شاعرانو د غزل يا نظم په يوه مصرعه کښې بشپړه غاړه يعنې په شپاړس يا څورلس سېلابيز بحر کښې يې شعرونه ليکلي وي خو دا ضروري نۀ ده چې په هر شپاړس يا هر څورلس سېلابيز بحر کښې دې دوې غاړې راغلې وي، بلکې داسې ډېر شپاړس او څورلس سېلابيز بحرونه شته چې په هغه کښې د غاړې بحر له سره راتلی نۀ شي. کله کله خو داسې غزلې هم مخې ته راځي چې په يوه مصرعه کښې يې يوه نيمه غاړه راغلې وي يعنې په څلروېشت سېلابيز بحر کښې ليکل شوې وي. چې د غزل په يوه مصرعه کښې د غاړې دوې مصرعې راغلې وي يا زياتې مصرعې د هغو مثالونه وګورئ:

"لپــې لپــې اوښــکې راوړه، د تــاك پــاڼې پــاڼې وچــې
اواره ملګريـــه! څــۀ شــوې، د لغمـــان ممـــاڼې وچـــې
ننګرهـــار تـــه بـــه چـــي راوړل، شـــاپېرو د چـــين ګلونـــه
د نرګســـو زېـــړ ګلونـــه، د نـــارنجو ســـپين ګلونـــه
چـــي د شـــاتو د مچيـــو، پـــه څـــانګونو کښـــې بـــه ګـــل ؤ
پـــه شـــملو کښـــې بـــه غـــونچې وې، اوربلونـــو کښـــې بـــه ګـــل ؤ"(29)

د پيــر محمــد کــاروان دا ټــول نظــم پــه همدغــه بحــر کښــې دی چــي پــه يــوه مصــرعه کښــې يــې د بشــپړه غــاړې بحــر ځــای کــړی دی، او چــي پــه يــوه مصرعه کښې يوه نيمه غاړه راغلې وي هغه مثال وګورئ:

لکـه لاره سـتا پـه پښـو کښـې، لکـه اوښـکه پـه لېمـو کښـې، لکـه وچ ښـاخ سـر اره شـم
لکـه مينـه يـم پـه زړو کښـې، لکـه سـتوری پـه تيـارو کښـې، چـي ښـکاره شـم اواره شـم

بېغ مـې نـۀ رسـې و تاتـه، ولوېـدم و داسـې ځـاه تـه، ووايـم څـۀ و دنيـا تـه
فکـر وړی يـم و ځـان تـه، چـي د جسـم و زنـدان تـه، زۀ رڼـا شـم کـه تيـارۀ شـم

نۀ مـې سـتا پـر لـور پـرواز شـته، نۀ هغـه د ځـوانۍ ساز شـته، نۀ محمـود شـته نۀ ايـاز شـته
نـۀ پـوهېږم پـه ځـان بانـدې، چـي دود ېـږم لکـه سـپاندې، چـارګر شـم کـه چـاره شـم"(30)

داسـې بحـر د نمـونې دپـاره وړانـدې کـوم چـي دوويشـت سـېلابونه لـري خو د غاړې په بحر کښې يوه غاړه هم نۀ ځينې را وزي. د مثال په ډول:

"نـۀ يـو نـۀ دوه دي او نـۀ سـل دي خدايـه! شـو بـې حسـابه حادثـات د ژونـدون
نـۀ مـې خنـدا نـۀ مـې ژړا تـه پرېـږدي، کـړکېچن خـومره شـو حـالات د ژونـدون
راکـوي يـار د بېلتانـۀ غمونـه، چـې زه فريـاد وکـړم چـي داسـې ولـې؟
هغـه بيـا وايـي پـه خـواب کښـې راتـه، چـي بـس هـم دغـه دی سـوغات د ژونـدون"(31)

پـه دغـه بحـر کښـې کلـه کلـه د اوو سـېلابونو نظـم يـا غـزل هـم راځـي خـو دا خبـره پـه پـام کښـې نيـول ضـروري ده چـي فقـط د سـېلابو پـه برابـري نظـم يـا غـزل د غـاړې بحـر تـه نۀ لـويږي بلکـې پـه دغـه بحـر کښـې بـه د سـپك سـېلاب او درونـد سـېلاب هـم پـر ځـای اسـتعمال شـوی وي نـو بـه مصـرعه د غـاړې بحـر تـه لـويږي، کنـي مـونږ وينـو چـي ډېـر نظمونـه پـه اووۀ سـېلابيز بحـر کښـې راغلـې دي خـو د غـاړې پـه بحـر کښـې يـې هـيڅ ګنجـايش نـۀ شـته، د مثـال پـه

ډول دغــه د اوو ســېلابونو نظــم وګــورئ چــي د غــاړې پــه اووۀ ســېلابيز مشــهور بحـر کښــې نـۀ دي او د غـاړې د بحـر او د دغـه نظـم پـه بحـر کښــې ډېـر فرق دی:

"اې شـــــــاعرانو ورونـــــــو!
اې اديبــــــانو ورونـــــــو!
اې ســـــــترګورو خلقـــــــو!
اې دردمنـــــــدانو ورونـــــــو!

پـــــه دې شـــــتمنه خـــــاوره
پـــــه دې پتمنـــــه خـــــاوره
چـــــا ظلـــــم وکرلـــــو؟
پـــــه دې خوږمنـــــه خـــــاوره

هلتـــــه هـــــم زۀ قتلېـــــږم
دلتـــــه هـــــم زۀ قتلېـــــږم
پـــــه نمرخاتـــــۀ قتلېـــــږم
پـــــه پرېواتـــــۀ قتلېـــــږم"(32)

**د انګـۍ بحـر**: لکـه څنګـه چـي مخکښـې ذکـر وشـو چـي د پښـتو ډېـر شـعري اصـناف لکـه غـزل، نظـم او داسـې نـور د اولسـي شـعري اصـنافو پـه بحـر کښــې ليکــل شــوي دي دغســې د اولســي شــاعرۍ يــو مشــهور صــنف انګـۍ هـم دی چـي ځينـې خلـګ ورتـه چغيـان او ځينـې متلونـه وايـي، چـي پـه بحـر کښــې يــې ډېــرو شــاعرانو غزلــې، نظمونــه او نــور صــنفونه ويلــي دي او لکـه څرنګـه چـي د غـاړې پـه بحـر کښـې شـاعرانو بـېلا بېلـې تجربـې کـړې دي دغســې شــاعرانو د انګيــو پــه بحــر کښــې تــر نــورو ټولــو اصــنافو ډېــره شــاعري کــړې ده لــه نظــم او غــزل پرتــه د انګــۍ پــه بحــر کښــې تــر شــمېر زيــاتې څلــوريځې شــاعرانو ليکلــې دي او پــه بشــپړ ډول يــې د څلوريځــو کتابونــه ادبـي ډګـر تـه راغلـي دي، د مثـال پـه توګـه رباعيـاتِ خوشـحال، يـو بشـپړ د څلوريځــو کتــاب دی او د محمــد صــديق پســرلي پســته اور، د بــرملا خــان

برمـــول کتــاب پښــتو څلــوريځې او دغســې د رحمــت زلمــي او بــارکوال مياخېـل پـه ګـډه د څلوريځـو مجموعـه چـي ټولـه پـه څلوريځـو مشـتمله ده، دا هغـه مشـهور کتابونـه دي چـي يـوازې څلـوريځې پـه کښـې راغلـې دي. لـه دې پرتـه ډېـرو شـاعرانو پـه خپلـو دېوانونـو کښـې د نمـونې دپـاره څلـوريځې شـاملې کـړې دي، لـه مرزاخـان انصـاري را واخلـې تـر دې نـن دوره پـورې پـه سـوونو څلـوريځې د پښـتو کلاسـيکو او جديـدو شـاعرانو ليکلـي دي، پـه دغـه بحـر کښـې د رديـف او قـاقيې پابنـدي اکثـره وي خـو ځينـو شـاعرانو مقفٰـی څلـوريځې هـم ليکلـې دي، خـو دا هـر څـومره څلوريځې هـم چـي ليکـل شـوې دي دا ټـولې د انګيـو پـه بحـر کښـې راغلـې دي، دا چـي د انګيـو بحـر څنګـه وي د دې دپـاره پـه لنډه توګـه ويلی شـو چـي لـس سـېلابيز بحـر لـري يـا پـه نـورو ټکـو کښـې دوه نـيم رکنـه سـېلابيز بحـر لـري، او پـه پـنځم سـېلاب بانـدې مصـرعې دريـږي او دويمـه برخـه جـلا داسـې ښـکاري لکـه چـي ځانتـه مسـتقله مصـرعه وي، خـو دا خبـره پـه څلوريځـه کښـې ضـروري ده چـي پـه پـنځم سـېلاب بـه مصـرعه دريـږي بيـا بـه دا نـوره پاتـه پنځـۀ سـېلابيزه مصـرعه ويـل کيـږي، خـو دغسـې پـه ډېـرو غزلـو کښـې داسـې بحرونـه شـته چـي هلتـه هـم مصـرعې پـه مـنځ کښـې دريـږي خـو هغـه پـه پـنځم سـېلاب نـۀ دريـږي د مثال په ډول دغه دوه بحرونه وګورئ:

"مــړې ســترګې کــړي را پورتــه، بيــا ځــي پــر خپلــه لاره
مــا پــوري وهــي اور تــه بيــا ځــي پــر خپلــه لاره

د خپــل لاري خلــګ، هــم کــانړی را غــورزار کــړي
زمــا و نړانــد کــور تــه، بيــا ځــي پــر خپلــه لاره"(33)

يا دا غزل:

"طمــع پــرې کــړه لــه ســهاره، او څــراغ درســره راوړه
شـــپه پخـــه وګڼـــه يـــاره او څـــراغ درســـره راوړه

بـــورې مـــور د خپـــل زوئ تـــوره د خـــرڅلاؤ دپـــاره راکـــړه
چـــي دا يوســـه تـــر بـــازاره، او څـــراغ درســـره راوړه"(34)

دا خبره هم په ذهن کښې ساتل په کار دی چې په پورتنیو مصرعو کښې په اووم اووم او اتم اتم سېلاب مصرعه درېږي چې دا په اصل کښې د غاړې بحر دی خو په یوه مصرعه کښې د یوې بشپړې غاړې سېلابونه راغلي دي، له دې پرته داسې نور بحرونه هم شته چې مصرعې یې په منځ کښې درېږي خو هغه مونږ د څلوريځې یا انګۍ په بحر کښې نهٔ شو ګڼولی ځکه چې دلته هم په پنځم سېلاب مصرعه نهٔ درېږي د مثال په ډول:

"څنګه چې د خیال څپې، راغلې او بیا ولاړلې
داسې مې د ژوند اسرې، راغلې او بیا ولاړلې
ژبې پښتنې زما ستا نه حیا وکړله
زړهٔ ته د اظهار جملې، راغلې او بیا ولاړلې
ستا چې د وصال ستوری، وختې په بام زما
ما باندې بې خوده شپې، راغلې او بیا ولاړلې"(35)

دا پورتني شعرونه هم په څورلس سېلابیز بحر کښې دي او را روان د سهیل جعفر شعرونه هم په څورلس سېلابیز بحر کښې دي خو دا چې بحر یې بدل شوی دی، دا ځکه چې د درانهٔ سېلاب د ځای د بدلېدو په وجه بحر ټول بدلیږي لکه پورته چې په لومړیو صفحو کښې دا له مثالو سره واضح شوې ده، دلته د سهیل جعفر هغه شعرونه وګورئ چې په څورلس سېلابیز بحر کښې لیکل شوي دي:

"حسرت یې پاته نهٔ شو، سجده مې ډېره وکړه
مینه مې پټه لړه، ښکاره مې ډېره وکړه
پرون چې و تخنېدم ستا په حسینو شوندو
بچیان مې سترګو ته شول، توبه مې ډېره وکړه"(36)

دغو پورتنیو بحرونو ته درویش درانی پنځم اوږد رکني بحر څلورم ښاخ او د څلورم اوږد رکني بحر د څلورم ښاخ نومونه ورکړي دي او د عروضو په کتاب کښې یې د مطالعې کولو په وخت شاعر ښهٔ په پوهېدای شي. خو په لنډه توګه مونږ د انګۍ یا څلوريځې د بحر په اړه وینو چې:

"چيغيـان هـم د خپـل مخصـوص بحـر او وزن لـه اعتبـاره لـه څلـوريځې سره يـو رنګـي لـري کـه څـۀ هم د مصـرعو پـه اعتبـار ډېـر فـرق سره لـري ځکـه چـي پـه څلوريځـو کښـې فقـط څلـور مصـرعې راځـي خـو پـه انګيـو کښـې د مصرعو پابنـدي نشـته لـه څلـورو واخلـې پـر مـخ هـر څومره مصرعې پـه کښـې راځي"(37)

دغســې د ښــاغلي عبـدالکريم بريـالي پـه شـاعري کښــې هــم داســې غزلـې شـته چـي بحرونـه يـې پـه مـنځ کښـې دريـږي او دغــه د څلـوريځې يـا انګۍ بحـر تـه نـزدې دي خـو د سـېلابونو د تـوپير لـه کبلـه مـونږ ورتـه داسـې بحـر ويلـی شـو چـي پـه يـوه مصـرعه کښـې بشـپړه غـاړه راغلـې وي خـو د انګۍ بحر نۀ شو ورته ويلای، د مثال په ډول:

"د يــادونو بهيــر لــړ لــړ، د هجــران اباســين ډېــر ډېــر
ملاحـت، عنايـت لـړ لـړ، خـو پـه خولـۀ يـې امـين ډېـر ډېـر
ســتا د مينــې ښــاريه ده دلتـــه ننــګ او اخــلاص څـــومره
زمـا پـه يـاد دی برښـور لـړ لـړ، پـه زړګـي ښـخ ېښـين ډېـر ډېـر
ســتا پـــه لــړ څـــۀ مينـــه پـــايم، د زړۀ ســـره تـــا تـــه وايـــم
را تـه ګـوره مهـين لـړ لـړ، زمـا پـه بخـت همنشـين ډېـر ډېـر"(38)

دلتـه د نمـونې دپـاره لـومړی يـوه انګـۍ راوړم او بيـا څـو رباعيـانې او وروسته داسې غزلې او نظمونه چي د انګۍ په بحر کښې ويل شوې وي:

"د ســـپينې خـــونې، پــر ورۀ مـــه ولـــه
لـــه لالا ډېـــره، يـــم مـــروره
لـــه کوکـــو ډېـــره، يـــم ګيلـــه منـــه
ښـــرې بـــه څلـــه، ورتـــه کومـــه
نصـيب بـه خپـل پـه، ګـوډي کښـې ورمـه"(39)

په هم دغه بحر کښې اوس څو څلوريځې وګورئ:

"چـــې پـــه مړونـــد يـــې، بـــاهو د خيـــال ۀ
ګـــوتې د زرو، غمـــــی يــــــې لال ۀ

و ګــــــور تــــــه لاړل، هغــــــه لاســـــونه
چـــي پـــه حنـــا بـــه، لالـــه مثـــال ؤ"(40)

"چـــا چـــي ليـــدلی، مـــخ لکـــه لمـــر ســـتا
هغـــــه پراتـــــۀ دي، مـــــدام پـــــر در ســـــتا
زړۀ يــــې پــــه مثــــل، قبلــــه نمــــای شــــو
ورتـــه قبلـــه شـــو، د کـــوڅې در ســـتا"(41)

د انګـی يـا څلوريځې پـه دغـه بحـر کښـې د پښـتو خـوږ ژبـې شـاعرې پـروين ملالـې هـم کلامونـه ليکلـي دي د دې لـه کلامونـو څخـه د نظـم پـه شکل کښې دا نمونه وګورئ:

**"تيارۀ وختونه**

اغـــــزن دردونـــــــه، تيـــــارۀ وختونـــــه
بـــې لـــه تـــا تېـــر کـــړم، څنګـــه کلونـــه
زۀ درتـــــــه څـــــــارم، د حشـــــــر لارې
لـــوی لـــوی غمونـــه، لـــرې مزلونـــه
پـــــه مـــــا د اوښـــــکو، بـــــار درنېـــــدلو
اوس پـــــه ښـــــو وړم جـــــالي ســـــيندونه"(42)

ورسره د کـاوون توفـاني يـو معـرٰی نظم هـم وړانـدې کـوم چـي د انګـی پـه بحـر کښـې ليکـل شـوی دی او دا خبـره پـه پـام کښـې نيـول ضـروري ده چـي دلتـه د اکثـرو شـاعرانو بشـپړ نظمونـه او غزلـي راوړل مقالـه لـه طوالـت سـره مخامخ کوي ځکه د شاعر د شعر په نمونه اکتفا کوم:

بيـــا مـــي پـــه زړۀ کښـــې، مينـــه نخيـــږي
بيـــا مـــي رګـــو کښـــې، وينـــه تـــوده شـــوه
بيـــا مـــي مغـــزو کښـــې د رزم شـــور دی
ســـترګې رڼـــې شـــوې، هيلـــه مـــي ســـره شـــوه

دلتـــه چـــې ګـــورم، زمـــا وطـــن کښـــې
زلمـــو جـــګ کـــړی، پـــرچم د خلکـــو
دلتـــه چـــې ګـــورم، پـــه دې هيـــواد کښـــې
زړونـــه کړيـــږي، پـــه غـــم د خلکـــو"(43)

دغسې د نظم په برخه کښې د تکړه شاعر سلېمان لائق يو نظم چې د ازاد نظم په بڼه کښې يې ويلی دی خو دغه نظم په دې ډول بيا د څلوريځې بحر ته اوړي چې کله د نظم دوې مصرعې سره پيوست شي نو کټ مټ د څلوريځې په بحر کښې معرٰی نظم ورځينې جوړيږي، د مثال په ډول دغه نظم وګورئ:

## "نااشنا نغمه

خـــراب خـــراب يـــم، کبـــاب کبـــاب يـــم
د ســـاقي لاس کښـــې، ګـــړوه پـــه شـــراب يـــم
عمـــــر تېريـــــږي، يـــــارانو ګـــــورئ
پيـــالې کـــړئ پورتـــه، چـــې نـــۀ ودريـــږي

کـــــاروان روان دی، زړۀ مـــــې پرېشـــــان دی
ويرژلـــی ژونـــد مـــې، پـــه مـــا تـــاوان دی
نـــــامراده عشـــــقه! زۀ دې بربـــــاد کـــــړم
زۀ دې بربـــــاد کـــــړم، نـــــامراده عشـــــقه"(44)

دغسې د حمزه شينواري يو غزل ستاسو مخې ته وړاندې کوم کوم چې د انګۍ يا څلوريځې په بحر کښې ليکل شوی دی:

"څنګـــــه بـــــونيږي، ســـــتوري اوتـــــر دي
چـــــې څـــــۀ ويلـــــې، ورتـــــه ســـــحر دي
پـــه ځـــان ښـــودنه، د يـــار غلـــط شـــو
څـــۀ بـــې خبـــر دي، دا چـــې خبـــر دي"(45)

## پایله:

پـه دې کښـې هـیڅ شـك نشـته چې د دېواني شـاعري د بحرونـو پـه خپـل ځـای خپـل اهمیـت شـته کـه څـهٔ هـم ځینـې بحرونـه لـه فولکلـوري شـعري اصـنافو څخـه پـه شـعوري یـا غیـر شـعوري توګـه را اخسـتل شـوي وي خـو بیـا هـم پـه دیـواني شـعري اصـنافو کښـې داسـې بحرونـه شـته چې هغـه پـه اولسـي شـاعري کښـې نشـته، خـو لـه دې هـم انکـار نـهٔ شـي کېـدای چې لـه فولکلـوري شـعري اصـنافو د بحرونـو جامـه د دیـواني شـاعرۍ ډېـرو شـاعرانو د تجربـې دپـاره یـا بـې لـه تجربـې خپـل کـړې دي، او پـه بـېلا بېلـو ډولونـو یـې کـارولي دي، د اتـڼ د نـارې پـه بحـر کښـې غزلـې، نظمونـه لیکـل شـوي دي دغسـې د غـاړې پـه بحـر کښـې غزلـې، نظمونـه او پـه ځینـو نظمونـو او غزلـو کښـې پـه یـوه مصـرعه کښـې د غـاړې دوې مصـرعې راغلـې وي یـا پـه یـوه مصـرعه کښـې د غـاړې درې یـا څلـور مصـرعې راغلـې وي، دغسـې د ټپـې د لـومړۍ او دویمـې مصـرعې پـه بحـر کښـې هـم شـاعرانو غزلـې لیکلـې دي او ورسـره دا هـم چې د انګـۍ پـه مخصـوص بحـر کښـې غزلـې او نظمونـه ښـخـي ډېـرو شـاعرانو لیکلـې دي. لـه دې دا څرګنـدیږي چې د دیـواني شـعري اصـنافو د بحرونو ډېرې رېښې له فولکلوري شعري اصنافو څخه اخستل شوې دي.

***

# حوالې


(1) دراني، درویش، پښتو عروض، لومړی چاپ، صحاف نشراتي مؤسسه، 2007ء، مخ64، 65.

(2) ګوهر، سعید، په اوبو کښې تږی، سکام ادبي اکېډمی کوټه، 2010ء، مخ76.

(3) د سید خیر محمد عارف، د شاعري ناچاپ بیاض.

(4) ایضاً.

(5) عارف، سید خیر محمد، د اتڼ نارې، پښتو اکېډمی کوټه، 2005ء، مخ 95.

(6) ایضاً، مخ115.

(7) ایضاً، مخ115.

(8) وېډیو حواله

(9) خټک، سهېل، ټپه ایز، یونائټډ پریس کوټه، 2012ء، مخ19.

(10) ایضاً، مخ21.

(11) ایضاً، مخ119.

(12) ایضاً، مخ83.

(13) راز، راز محمد، د صلیب په دائرو کښې، د چاپ اداره نۀ لري، جون 1999ء، مخ 56.

(14) ایاز، محمود، بیا زۀ هم په سایه بدل شوم، سکام ادبي اکېډمی کوټه، 2006ء، مخونه بېلا بېل.

(15) دراني، درویش، ستوري په لمن کښې، (څلورم چاپ) صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، 2011ء، مخ207.

(16) راز، راز محمد، د صلیب په دائرو کښې، مخ36،

(17) دراني، درویش، پښتو عروض، مخ111.

(18) ګوهر، سعید، په اوبو کښې تږی، مخ166

(19) ختټک، خوشحال خان، کليات خوشحال، (دويم چاپ) ترتيب او سمونه د عبدالقيوم زاهد مشواڼي، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، 2008ء، مخ296.

(20) ختټک، خوشحال خان، کليات خوشحال، مخ278.

(21) ازاد، نعيم، پښتني انځور، صحاف نشراتي مؤسسه، کوټه، 2001ء، مخ78.

(22) نېکڼه، بېټ، (له پښتانهٔ شعراء) لومړی برخه، مرتب، عبدالحی حبيبي، يونيورسټي بک ايجنسی خيبر بازار پېښور، مخ3.

(23) ختټک، اجمل، د غيرت چيغه، يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور، دويم چاپ، 2012ء، مخ46.

(24) بېټنی، منتظر، سپرلی به ضرور راځي، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، جولائي 2010ء، مخ128.

(25) ګوهر، سعيد، په اوبو کښې ترې، مخ47.

(26) کاکړ، پروفيسر سيال، پخوانی غاړې، پښتو فولکلوري اکېډمی کوټه، دسمبر2006ء، مخ66.

(27) ايضاً، مخ67.

(28) ايضاً، مخ67.

(29) کاروان، پيرمحمد، چنارې خبرې کوي، دانش کتابخانه، پېښور، اګست 1997ء، مخ183.

(30) عارف، سيد خير محمد، دېوالونه وينې دي، پښتو ادبي ملګري لورالائي، 2012ء، مخ73.

(31) معذوريار، شفيق العالم، سکاسه،ملت پريس لاهور، 2003ء، مخ 294.

(32) بېټنی، منتظر، مخ139.

(33) دراني، درويش، دا بوټي به لونګ شي، (دويم چاپ) صحاف نشراتي مؤسسه، کوټه، 2010ء، مخ42

(34) ايضاً، مخ43

(35) ملال، پروین فیض زاده، د خزان طلائي پلونه، دانش کتابتون قصه خوانۍ پېښور، 2000ء، مخ90.

(36) جعفر، سهېل، د یاد په جزیره کښې، سکام ادبي اکېډمۍ کوټه، 2007ء، مخ110.

(37) رحمت، حافظ، نیازی، د څلوریځې د بحر تجزیه، مشموله تکتو شماره 7، پښتو څانګه بلوچستان یونیورسټي کوټه، جنوري- جون 2012ء، مخ124.

(38) بریالی، عبدالکریم، د شاعري دیوان، ناچاپ.

(39) نیازی، حافظ رحمت، د څلوریځې د بحر تجزیه، مخ125.

(40) خټك، خوشحال خان، مخ388.

(41) کاکړ، شمس الدین، د شمس الدین کاکړ دیوان، (دویم چاپ) صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، 1388ل. مخ139.

(42) ملال، پروین فیض زاده، د خزان طلائي پلونه، دانش کتابتون قصه خوانۍ پېښور، 2000ء، مخ113.

(43) توفاني، کاوون، سپرغې، دولتي مطبعه افغانستان، 1362ل، مخ45.

(44) لائق، سلېمان، چونغر، درېیم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، 2013ء، مخ102، 103.

(45) شینواری، امیر حمزه، بحواله پښتو عروض دروېش درانی، کوټه، مخ153.